بسم الله الرحمن الرحيم

# هغه بدلون چې پاکستان اړتیا ورته لري؛ نوی سیاست او د الله سبحانه وتعالی د وحې پر بنسټ نوی دولت، یعنې د نبوت پر منهج خلافت دی

په وروستیو څو کلونو کې د اقتصادي ستونزو له امله د پاکستان د مسلمانانو کړاوونه څو چنده زیات شوي. د دې ترڅنګ په یاده موده کې په پاکستان کې سیاسي ګډوډي، بې ثباتي او د حکومت ناکامي هم زیاته شوې ده. دولت او ادارې یې د ولس د ستونزو د حل په برخه کې لټې بې پروا او بې علاقې دي او دغه چاره د ولس د بدبختیو د لازیاتېدلو لامل ګرځېدلې ده.

د پاکستان د نننی سیاسي فلجوالي او بې ثباتۍ لامل د هغه ناکام سیاست مستقیمه پایله ده، چې واکمنه سیاسي طبقه یې پلی کوي. له غربي مفکورې څخه په اغېزمنتیا د پاکستان تحریک انصاف، مسلم لیګ -نواز، د پاکستان د خلکو ګوند او نورو سیاسي ګوندونو سیاست پر دې راڅرخي چې په هره بیه چې وي، واک ترلاسه کړي او همدارنګه د واکمنو سیاستوالو، جنرالانو او قضایه قوې ګټې خوندي کړي. د ملکي برترۍ، د قانون حاکمیت او د ولس حاکمیت تر شعارونو لاندې په دغه سیاست کې سیاستوال، جنرالان او قاضیان د خپل واک د زیاتولو او د خپل ځان لپاره له مناسبو سرچینو څخه د خپلې برخې د ترلاسه کولو لپاره په مبارزه بوخت دي. دا د معاملې کولو سیاست دی، چې یوازې غربي ګټو او نړیوالو بنسټونو ته خدمت کوي، داسې قوانین تصویبوي چې د جنرالانو، سیاستوالو او قاضیانو لپاره د واک مودې غځوي او سیاسي ګوندونو، سیاسي وفادارانو او د هغوی تمویل کوونکو ته انعام ورکول تنظیموي. د اوسني سیاست -چې یوازې د واک په لټه کې دی- له بشپړ ردولو او د اسلام پر بنسټ د نوي سیاست له پلي کولو پرته، بل هېڅ شی د پاکستان د مسلمانانو روانه بدبختي او بدمرغي پای ته نه شي رسولی.

پاکستان یوه داسې نوي سیاست ته اړتیا لري چې د خلکو د چارو پر تنظیمولو تمرکز وکړي. هغه سیاست چې د اسلامي شریعت په پلي کېدلو ولاړ وي، حاکمان د قران او نبوي سنتو څخه اخیستل شوي احکام پلي کوي او امت د اسلام په پلي کولو کې د غفلت له امله حاکم محاسبه کوي. داسې سیاست چې د اسلامي شریعت له مخې د امت ګټې په پام کې نیسي او امت د اشغالګرو کفارو له دسیسو او پلانونو څخه ژغوري. داسې سیاست چې د امت د اقتصادي سرچینو پر یووالي متمرکز وي او د ټولو مسلمانانو لپاره یې مصرفوي. یو داسې نوی سیاست چې غواړي د اشغال شوي فلسطین او کشمیر د ازادولو لپاره د امت پوځي ځواک سره یو کړي. داسې سیاست چې ټولې نړۍ ته د اسلام پر پیغام رسولو تمرکز وکړي. داسې سیاست چې واکمنان یې د امت غمخوار ساتونکي وي.

رسول الله صلی علیه وسلم فرمایلي دي:

**«كُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالأَمِيرُ رَاعٍ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ،وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ زَوْجِهَا وَوَلَدِهِ، فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ»**

*ژباړه: «تاسو ټول ساتونکي او د خپل رعیت مسول یاست. حاکم ساتونکی دی او سړی د خپلې کورنۍ ساتونکی دی. ښځه ساتونکې ده او د خپل میړه د کور او د هغې د اولادونو مسوله ده او په دې توګه تاسو ټول ساتونکي یئ او د خپل رعیت مسول یئ.» (بخاري)*

د نوي سیاست ترڅنګ پاکستان یوه نوي دولت ته اړتیا لري. د غربي سیاسي حکومتولۍ (ډیموکراسۍ) په پلي کولو سره اوسنی دولت سیاستوالو ته اجازه ورکوي، چې یوازې د خپلو ګټو او خپلو غربي بادارانو د ګټو د خوندي کولو لپاره قوانین جوړ کړي. پیاوړې سوداګریزې ګټې د قانون جوړونې پر پروسه او دولتي ادارو باندې اغیزه کوي، ترڅو داسې قوانین او پالیسۍ تصویب کړي چې کپیټلیسټانو ته سبسایډي ورکوي. د درې اړخیزه فدرالي دولت جوړښت پرېکړه کول او پالیسي جوړول فلجوي. سوبې او ځایي حکومتونه چې د بېلابېلو سیاسي ګوندونو لخوا اداره کیږي، د یو بل او د فدرالي حکومت د کمزوري کولو هڅې کوي. د واک دغه ویش هم د حکومت په ټولو برخو کې واکمنانو ته اجازه ورکوي چې د امت د چارو د څارنې له مسولیت څخه ځان خلاص کړي.

د سند د سېلاب ځپلو کډوالو لپاره د پنجاب سرچینې نه ورکول کیږي او فدرالي حکومت د سند، بلوچستان او خیبر پښتونخواه له سېلاب ځپلو کډوالو سره ځکه مرسته نه کوي، چې واکمن مسلم لیګ-نواز ګوند دوی ته د خپلو اصلي رایه ورکوونکو په سترګه نه ګوري. په هرو پنځو کلونو کې کېدونکو ټولټاکنو او د حکومتونو او مقننه اسمبلۍ د منحلولو حق، په پاکستان کې د دوامداره سیاسي بې ثباتۍ لامل ګرځېدلی او دولت یې فلج کړی. له بهرني اړخه د پاکستان دولت تل د بهرنیو قدرتونو او نړیوالو مالي موسسو پر پورونو تکیه کوي. دغې چارې د پاکستان حکومت له ستونزمنو اقتصادي او سیاسي شرایطو سره مخ کړی او د پاکستان اقتصادي او بهرنۍ پالیسي یې د بهرنیو قدرتونو تابع کړې ده.

په نوي دولت، د نبوت پر منهج دوهم راشده خلافت، کې امت د ټول ژوند لپاره خلیفه ټاکي او په دې شرط به ورسره بیعت کوي چې خلیفه به د امت د اطاعت په بدل کې اسلامي شریعت پلی کوي او جهاد به کوي. خلیفه هغه وخت له خلافت څخه لرې کیږي چې ښکاره یا بواح کفر پلی کړي. دا چاره د سیاسي ثبات لامل ګرځي او خلیفه ته وخت ورکوي چې د امت د وضعت ښه کولو لپاره اوږد مهاله پالیسۍ جوړې کړي. خلیفه د ولایتونو والیان او د ښارونو عاملین ټاکي. دوی خلیفه ته راپور ورکوي او خلیفه د دوی د کړنو په اړه امت ته ځواب ویونکی دی. خلافت د خپلو اتباعو حقونه د نژاد، توکم او سیاسي واک په بنسټ نه، بلکې د اسلامي شریعت پر بنسټ تضمینوي. خلیفه قانون نه شي جوړولی. هغه د اسلامي شریعت پابند دی او باید له قرآن او نبوي سنتو څخه اخیستل شوي قوانین پلي کړي. اسلام، مسلمانان د کفر واک او قدرت ته له تسلیمېدو منع کوي. د خلافت دولت اجازه نه لري چې د هغو نړیوالو سیاسي او مالي بنسټونو برخه شي چې په هغو کې کفار پر مسلمانانو برلاسي وي. اسلام، مسلمانان د جنګ په چارو کې له کفارو څخه له مرستې اخیستو په کلکه منع کړي دي. په دې توګه د دوهم راشده خلافت نوی دولت به پر موږ باندې د وحی پر بنسټ حکومت کوي او د الله سبحانه وتعالی له خوا په قران او نبوي سنتو کې نازل شوي قوانین او تګلارې به پلي کوي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَأَنِ احكُم بَينَهُم بِما أَنزَلَ اللَّهُ وَلا تَتَّبِع أَهواءَهُم وَاحذَرهُم أَن يَفتِنوكَ عَن بَعضِ ما أَنزَلَ اللَّهُ إِلَيكَ﴾**

**ژباړه:** «د خلکو ترمنځ د الله سبحانه وتعالی له لوري په نازل شوو احکامو قضاوت وکړه او د دوی د هیلو (هوا نفس) پیروي مه کوه. تقوا وکړه، داسې نه چې دوی د بعضې هغه څه په اړه چې الله سبحانه وتعالی پر تا نازل کړي دي، په فتنه کې واچوي» [مائده : ۴۹]

خلافت د اسلام سیاسي جوړښت دی. امت ته د دې اجازه نشته چې له دریو ورځو او دریو شپو زیات وخت بې خلیفه تېر کړي. پر مسلمانانو لازمه ده چې خلیفه وټاکي، له هغه سره د اطاعت بیعت وکړي او د اسلامي شریعت په پلي کولو او ټولې نړۍ ته د اسلام د پیغام د رسولو لپاره جهاد کې د خلیفه مرسته وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الأَنْبِيَاءُ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ، وَإِنَّهُ لاَ نَبِيَّ بَعْدِي، وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ. قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ فُوا بِبَيْعَةِ الأَوَّلِ فَالأَوَّلِ، أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ، فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ»**

**ژباړه:** «پر بني اسرائیلو باندې پیغمبرانو سیاست کاوه، کله به چې یو پیغمبر مړ شو نو بل به یې پر ځای راغی. له ما وروسته به بل نبي نه وي، خو خلفاء به وي چې شمېر به یې زیات وي. «خلکو وپوښتل: یا رسول الله! موږ ته څه حکم کوې؟ هغه وفرمایل: د هغه چا اطاعت وکړئ چې لومړی بیعت ورسره وشي. د دوی حقونه ادا کړئ، ځکه چې الله سبحانه وتعالی به له دوی څخه د دوی د سرپرستۍ په اړه پوښتنه وکړي.»

**اې د پاکستان د وسله والو ځواکونو افسرانو!**

رسول الله صلی الله علیه وسلم د رب العالمین د وحې پر بنسټ بشریت ته یو نوی لید وړاندې کړ. هغه صلی علیه وسلم داسې نوی سیاست، نوی دولت او نوې ټولنه رامنځته کړل، چې د ټولې نړۍ لپاره یې د رڼا څراغ روښانه کړ. له رسول الله صلی علیه وسلم سره د هغه په ماموریت کې د انصارو رضی الله عنهم مبارکو کسانو په پوځي قوت سره مرسته وکړه او د لومړي اسلامي دولت د جوړولو لپاره یې خپل ځواک د نصرت په ورکړه کې وکاروه.

دغه شرعي مسؤلیت نن ورځ ستاسو پر اوږو دی. د اسلامي نړۍ لپاره د نوي لید د وړاندې کولو لپاره خپل مادي ملاتړ (نصرت) ورکړئ. د نبوت پر منهج د دوهم راشده خلافت د تاسیس لپاره د نصرت عهد وکړئ او له دې لارې د خپل رب رضا او په دنیا او اخرت کې بریالیتوب ترلاسه کړئ.

**حزب التحریر – ولایه پاکستان**

۱۴۴۴ هـ. ق، د جمادي الاول ۲۹مه

۲۰۲۲م کال، د ډسمبر ۲۳مه